# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| گزارشها | Reports |
|---|---|



لیکوال او شنانډ: نظرمحمد مطمئن

۰۲ فبروری ۲۰۱٦

## د سولې له پاره د استاد سیاف د وژلو غوښتنه – پګواش غونډه

د پګواش غونډې لومړۍ ورځ ځینې داسې خبرې وشوې چې اړینه ده افغان ولس ورڅخه خبر شي. خبرې به ګرده مهمې وي، زما له پاره یکې درې داسې ټکې دی چې غواړم ستاسې سره یې شریک کړم.

عمر داودزی چې د پخواني ولسمشر کرزي د دفتر رئیس، پاکستان کې افغان سفیر او بیا وروسته د کورنیوچارو وزیر و، لومړی ځل و چې د طالبانو سره په یوه مخامخ ناسته کې په دوحه کې ناست و.

د ۲۰۱۵ ز کال په ډسمبر میاشت کې ښاغلی محمد عمر داودزی امریکا ته تللی و، هلته یې د امریکا د بهرنیو چارو او ځینو نورو پټو ادارو له مهمو غړو سره ناستې درلودلې.

ښاغلی داودزي هوډ لري چې راتلونکي ولسمشریزې ټاکنې که کیږي یو مهم نوماند به یکې دی وي، له اوس نه یې خپل په ګټه کمپاین پیل کړی، په امریکا کې یې بېلابېلو امریکایي چارواکو ته د نورو خبرو تر څنګ دا هم ویلي وو چې له طالبانو سره نږدې اړیکې لري او د راتلونکي ولسمشر کیدو له پاره به دده له نوماندي سره طالبان هم ستونزه ونه لري. دا ډول یې امریکایانو ته ډاډ ورکړی وو چې له ځینو طالبانو سره په اړیکه کې دی.

ښاغلي داودزي ځینو څوانو سیاستوالو ته ویلي و چې د امریکا څخه له راستنیدو سره سم به یو لوی دفتر په کابل کې پرانیزي او خپلې سیاسي هڅې به په جلا ډول پیل کوي. ولي کله چې راستون شو مایوس ښکاریدی او امریکایانو ورسره د ده د توقع مطابق ژمنې نه وې کړې، د ښاغلي داودزي نیت و چې د کابل سربیره خپل فعالیتونه ولایتونو ته هم وغځوي.

همدا لامل و بیا نو د حراست او ثبات په نوی جوړښت کې ورسره پاتې او له هغوی سره یوځای اوس د واک له پاره هڅې کوي، په دغه نوی جوړښت کې ښاغلی استاد سیاف او ښاغلی قانوني هم هیله لري چې راتلونکي افغان مشرتابه کې مخکښ وي.

د ښاغلي داودزي سره امریکایانو څکه په ژمنو کې شرطونه وړاندي کړل، هغوی له بېلابېلا نورو افغان سرچینو سره په امریکا کې اړیکې ونیولې، د داودزي او طالبانو د اړیکو پوښتنه یې ورڅخه کوله، هغوی چې په دې پوهیدل چې د کورنیو چارو پخواني وزیر رابطه نه درلودله او امریکایانو ته یو ډول دغه خبره ناسمه معلومه شوه، اوس به ښاغلی داودزی خپله ټوله هڅه کوي چې امریکایانو ته وښیي چې له طالبانو سره اړیکې لري.

داسي راپورونه هم شته چي د ښاغلی داودزي نوم د پګواش کانفرانس په لومړني لسټ کي نه و، په وروسته وخت کي دغه نوم پکي ورزيات شوی و.

### له طالبانو څخه بخښنه غوښتل

خپلي تيروتني منل او پر خپلو تيروتنو اعتراف کول او بخښنه غوښتل د پياوړو خلکو کار وي، او همداسي په خپله خبر دريدل هم د ځواکمنو او ازاد و سياستوالو کار وي.

دوحه کي د پګواش دوېمه ناسته کي ښاغلي داودزي د غونډې په لومړۍ ورځ وويل چي طالبان مظلوم واقع شوي پر دوی ظلم شوی، په تيرو ۱۴ کلونو کي بېلابېل مشکلات ورته پيښ او له خپلو کورونو څخه پسي واخستل شول، زه د تير وخت د کرزي د دفتر درئيس، پاکستان کي د سفير او کورنيو چارو د وزير په صفت له طالبانو د حکومت د دغو ناسمو تګلارو له امله بخښنه غواړم.

ښه خو داوه چي د خپل واک په وخت کي يې داکار کړی وای، که بخښنه يې نه غوښتلای اقلا د حکومت د ناسمو تګلارو څخه يې په ځينو وختونو کي يادونه کړي وای. مګر هلته خو دواک او ځواک خبره وه، طالب تروريست او د وژلو وړ و.

ښاغلی دوادزی چي په پاکستان کي سفير او کله به کابل ته راغی نو د معلوماتو شريکولو په موخه به يې له ښاغلي وحيد مژده سره خامخا کتل، حتی څو ځله، خو کله چي د کورنيو چارو وزير شو او مژده صاحب ته راپيدا شو ستونزو لا هم دوام درلود، هغه هم له دي کبله چي  ښاغلی مژده له طالبانو سره اړيکي لري، مژده صاحب چي هرڅومره هڅه وکړه چي دغه پخوانی سړی وويني خو په سياستوالو باور کول خامي ده، هيڅکله يې دده د وزارت د دندي پرمهال ونه ليدی.

بيا هم چي پګواش کي چي کومي خبرې داودزي وکړي موږ يې پرځای ګڼو چي په خپلو تيروتنو يې اعتراف وکړ، او په اصل کي دا امريکا په راتګ هم نيوکه ده چي هغوی دلته د مظلومو افغانانو د وژلو له پاره راغلي دي.

ولي کاش چي په همدې خپله خبره پاتي شوی وای، له همدې خبرې کولو اته ورځي وروسته يې ليکنه وکړه او ويې ويل چي له طالبانو مي بخښنه نه ده غوښتې.

ډاکټر فيض محمد ځلاند په همهغه تالار کي وويل چي کاش داودزي صاحب دا خبره د خپلي دولتي دندي پر مهال کړي وای، او کاش هغه وخت چي پخواني ولسمشر کرزي په قطرکي د طالبانو د دفتر د پرانستلو مخالفت وکړ، په هغه وخت کي يې کرزی له مخالفت څخه راګرځولی وای، که کرزي مخالفت نه وای کړی اوس به مو د سولي اړوند ډير پرمختګ درلود، او يا خو هغه وخت کي داودزي صاحب د احتجاج په ډول استعفی ورکړي وای او د حکومت په ناسمو تګلارو يې نيوکه کړي وای.

اوس هم کله چي کابل ته ځو اميد دی چي داودزی صاحب په خپله خبره پاتي شي او ورڅخه ونه ګرځي، دا ډول نور پخواني او اوسني چارواکي هم وهڅوي چي د حکومت د ناسمو تګلارو اړوند په وخت څرګندوني وکړي. د ځلاند صاحب انديښنه پرځای وه، دادی داودزی صاحب له خپلي خبرې چي تر ۴۰ زياتو د غونډې ګډونوالو مخکي يې له طالبانو بخښنه وغوښته اوس بيرته په شا شوی. ماته د غونډې ځينو ګډونوالو وويل چي اوس که دوادزی هر څه ووايي دا نو نور هم خپل حيثيت جرحه کوي ځکه موږ شاهدان يو چي ده له طالبانو څخه په روښانو ټکو کي بخښنه وغوښته.

### طالبان دي استادسياف ووژني

د ولسمشر اشرف غني تره قيوم کوچی د خپل وراره له ډير صفت کولو وروسته او پر طالبانو له تونده نيوکو کولو سره سره يوه د زړه خبره هم وکړه، هغه طالبانو ته وويل چي تاسي ظالمان ياست، بي گناه خلک وژنئ، بي ځايه جگړه کوئ، حکومت نه شئ نيولای، راشئ له حکومت سره يوځای شئ او زه په خپل وراره ويارم چي په ډير مهارت سره يې له ډاکټر عبدالله سره گډ حکومت جوړ کړ.

ښاغلي کوچي وويل طالبان چي په کابل او نورو ځايونو کي بي گناه عام افغانان وژني او غټ مجرمين نه وژني دا زموږ له پاره د منلو وړ نه ده، طالبان که رښتيا غواړي چي د افغانانو قاتلين او اصلي مجرمين ووژني نو مهرباني دي وکړي تر ټولو لومړی دي استاد سياف او د هغه هم مثله ووژني. خيني گډونوال وايي چي د استاد محقق نوم يې هم واخيست خو دغه نوم بيا نور گډونوال نه تايدوي يواځي د استادسياف د وژلو غوښتنه د کوچي له خوا تايدوي.

د طالبانو د هيئت او قطر دفتر مشر ښاغلي شيرمحمد عباس ستانکزي د ښاغلي قيوم کوچي د استاد سياف د وژلو د غوښتني اړوند ځواب کي ورته وويل چي: موږ ټولو هغو مجاهدينو کشرانو او مشرانو ته په درنه سترگه گورو چي پخواني شوروي اتحاد سره يې په جهاد کي برخه اخستي او کمونيزم يې د نړی له مخي ورک کړ. استاد سياف د جهاد د رهبرانو څخه دی هغه له کمونستانو سره جهاد کړی، موږ به هغه څوک وژنو چي د شوروي د يرغل پر مهال دهغوی غلامان او دهغوی له پاره جنگيدل، په اوس مهال کي د امريکا غلامان او د امريکا د گټو له پاره له افغان ولس سره جگړه کوي، موږ به د هغو سيکولر کسانو سره هم جگړه کو چي له لويديځ څخه راغلي‌او په افغانستان کي د سيکولريزم له پاره مبارزه کوي.

ښاغلی کوچی! موږ پوهيږو چي لويديځ غواړي زموږ او مجاهدينو تر منځ اختلافات لا زيات کړي او غواړي موږ په مجاهدينو او د مجاهدينو مشران په موږ ووژني ، موږ به هيڅکله د مجاهدينو د مشرانو وژلو له پاره د لويديخ د دغي سيسي ښکار نه شو.

### د ملامحمد عمر مجاهد فاتحه

کله چي د طالبانو د هيئت مشر پورته خبري د پروان ولايت اوسيدونکي او د کرزي په وخت کي د وزارت مرسيتال او د شمال ټلوالي مهم غړي ډاکټر حسام الدين همراز واوريدلي، او مجاهدينو ته د طالب مشر درناوی او له مجاهد سره د مينې‌او محبت څخه ډکي ځرگندوني يې په داسي يوه مهمه ناسته کي په خپلو غوږو واوريدي هغه ډير تعجب کاو، د ده سره نږدې ملگري ته يې وويل چي **مرد است مرد، طالب مرد است**

هغه نږدې د غونډې بل گډونوال ته وويل چي د ستانکزي صاحب خبره دي واوريدله چي کوچي ته يې سخت جواب ورکړ او د مجاهدينو ډير درناوی يې وکړ.

ډاکټر حسام الدين خپل مايک روښانه کړ او نوبت د خبرو هم دده و، هغه وويل چي مخکي له دي چي زه په خبرو پيل وکړم، زه غوښتنه کوم چي کوم ورور د قران کريم څو ايتونه تلاوت او ملامحمد عمر مجاهد ته دعا او دهغه فاتحه له موقع نه په استفاده همدلته واخلو.

هغوی چي د ملامحمد عمر مجاهد د مرگ پر مهال د حکومت مهم غړي و او په کابل او نورو ښارونو کي يې د ملامحمد عمر مجاهد پر فاتحه بنديز لگولی و، همدلته په تالار کي ناست او هيچا هم ددي خبري مخالفت ونه کړ، د قران کريم ايتونه تلاوت او ملامحمد عمر مجاهد ته د مغفرت او جنت الفردوس غوښته له الله ج څخه وشوه.

پاتي دي نه وي چي د فاتحي د غوښتني اړوند د پگواش مشر ښاغلی پاولو هم ډير متحير و، او هغه زياته کړه چي عمومي فاتحه او دعا به وکړو.

له دعا او فاتحي وروسته بيا ډاکټر حسام الدين په خپلو خبرو پيل وکړ او د سولي اړوند يي رغنده خبري وکړي.
د کانفرانس د همدي ورځي د غونډي د پای ته رسيدو وروسته ډاکټر حسام الدين ته ښاغلي کوچي ګوت څنډنه وکړه چي تا يو ناسم کار وکړ، ولي دي په عام تالار کي د ملامحمد عمرمجاهد د فاتحي غوښتنه وکړه.

### د خبرو ازادي

په قطر کي د پګواش دوېمه ناسته يو ښه پرمختګ ګڼلای شو، د بېلابېلو افغان شکېلو اړخونو غړو په ناسته کي ګډون درلود، په پوره ازادي سره يي خپل نظرونه، غوښتني او انديښني يو له بل سره شريکولي، چي له دي جملي څخه د ملالی شينواري خبري هم موږ يادولای شو، هغه خبري چي د غونډي په ډېرو ګډونوالو ښي نه وي لګيدلي.
د طالبانو د نظام پرمهال يو ځل د لوی اختر د لمانځه د اداء کولو له پاره دخپلي ولسوالی عيدګاه ته ولاړم، هلته مي د خبرو له پاره اجنډا داوه چي د ښووني او روزني په اهميت خبري وکړم، خلک وهڅوم چي خپل اولادونه ښوونځيو ته واستوي او پوهي ته توجه وشي، ولي ولسوال زما څخه وغوښتل چي د تيرو حکومتو د نظامونو په جوړښت هم خبري وکړم، ما لومړی د ښووني او روزني په اهميت خبري وکړي، خو دوېمه برخه چي لاهم تر اوسه ماته پښېماني پري راځي او د ولسوال فرمايش و، زما د خبرو هغه دروندوالی يي متاثره کړ.
ملالی شينواري مخکي له تګ څخه د ولسمشر غني باصلاحيته سلاکار ښاغلي ډاکټر اکرم خپلواک وروغوښتله، له هغي سره يي د پګواش کانفرانس اړوند خبري وکړي او خپل فرمايشونه يي هم ورته ورکړل، شينواري وويل چي طالبانو ښځي مجبورولي چي په چادري کي غوا ولوشي (بيخي لوی تهمت دی)، ديته ورته نامناسبي او له ادبي چوکاټ څخه وتلي خبري يي وکړي ، هغي ويل زه که مور نه يم، تر اوسه مي واده نه دی کړی خو د مور عاطفه لرم، تاسي د ميندو زامن مه وژنئ، دا ډول د خپلو ايمانو د ساتلو په موخه مو ښځو ته له کوره د وتلو او ښووني او روزني حق نه ورکاو. د خپل ځان ګناه څخه ساتلو له پاره مو ښځي په کور د کيناستلو قرباني کړي وي، جالبه خبره يي دا هم وه چي که ځيني تلويزونونه ستاسي په آند ناسم پروګرامونه پر مخ وړي مهرباني وکړئ تاسي مه ورته ګورئ ، پدې معنی چي د عامو خلکو فحشا ته د تشويق مخه نيول نو ستاسي دنده نه ده.
د طالبانو ځواب داو چي د ښځو له پاره د زده کړي مصؤن چاپيريال چي د نارينه او ښځو اختلاط نه وي حق لري چي پوهنتون ووايي، ماسټري او دوکتورا وکړي د اسلامي او کلتوري ارزښتونو په نظر کي نيولو سره خدمت وکړي.
باوري يم چي زما په څير چي د ولسوال په فرمايش مي يوه برخه خبري کړي وی اوس هم پښېمانه يم دا ډول به ملالی شينواري هم د فرمايشي خبرو په کولو پښېمانه وي او يا خو به په راتلونکي کي پښېمانه شي. مګر هوښياره ميرمن ده د مزمل صاحب خبرو ته يي هم سم غوږ ونه نيو او د حاجی فريد د خبرو پر مهال له تالاره ووتله.

### د ناستو تسلسل

د پګواش او هر نړيوال کانفرانس ناستي موږ ته دا چانس راکوي چي خپلي غوښتني، انديښني او ګيلي يو بل ته په مخامخ ډول وړاندي کړو، کلونه وړاندي سوال نه پيداکيدی چي د افغان دولت د کورنيو چارو وزير داودزی، د ماليي پخوانی وزير شهراني، د ماليي او سوداګری پخوانی وزير احدي، د لويديځ په غيږ کي رالويي شوي ځيني افغان ميرمني (چي پښتو او دري يي خبري نه شوای کولای او په انګريزي يي خبري کولي)، مدني فعالان او د بېلابېلو نظرونو لرونکي دي د طالبانو سره مخامخ کښيني او خپلي نيوکي دي په مخامخ او توند ډول سره د طالبانو مشرانو ته وړاندي کوي.

د همدې نړیوالو کانفرانسونو نتیجه همدا ده چې طالبان د تیرو کانفرانسونو په پرتله داخل خپلې خبرې ډیرې روښانه او په ۱۳ پانو کې یې په بېلابېلو سولې اړوند موضوعاتو بحث وکړ، د ګډونوالو پوښتنو، اندیښنو او ګیلو ته یې په حوصله ځواب ووایه.
که دغه ډول ناستې تسلسل پیداکړي باوري یم چې یوه ورځ به بین الافغاني تفاهم د باور لرلو سره پېل او موږ به سولې ته ډیر نږدې شوي یو.